په حقيقت کې الله تعالى ستاسو لپاره درې شيان خوښوي او درې شيان نه خوښوي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «په حقيقت کې الله تعالى ستاسو لپاره درې شيان خوښوي او درې شيان نه خوښوي نو کوم يې چې خوښ دي دا دي چې تاسو يې عبادت وکړئ، هېڅ شى ورسره شريک نه کړئ او ټول د الله رسﷺ کلکه ونيسئ او سره جلا نه شئ، او هغه چې نه يې خوښوي: تا ويلي ما ويلي، زياتې پوښتنې کول او بې ځايه پېسې لګول دي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي چې الله تعالى د خپلو بندګانو درې خويونه خوښوي او درې بد ګڼي، نو هغه چې خوښ يې دي دا دي چې: دوى يې په يووالي ومني او هېڅ شى ورسره شريک نه کړي، او دا چې د الله په ژمنه، قرآن او د هغه د نبي په سنت پدې ټولو کلکې منګولې ولګوي او د مسلمانانو له ډلې جلا نه شي. او هغه چې بد يې ګڼي: بې ګټې او د هغه څه په اړه ډېرې خبرې کول چې دوى پورې اړه نلري، د هغه څه په اړه پوښتنه کول چې پېښ شوي ندي، له خلکو څخه پيسې او هغه څه غوښتل چې د دوى ملکيت وي، او له اړتيا پرته غوښتنه، د پېسو ضايع کول او له روا موخو پرته يې په نورو لارو کې مصرفول او دا چې (خپل مال) له خطر سره مخ کړي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66236